# انسان

## په عربي، انګليسي او پښتو ادب کې

له هغه وخته چې انسان پخپل مسکن او ټك کې پر آرامه سوی او عقلیت یې جګ سوی دئ، ده ته د خپل ځان فکر ورلوېدلی دئ، چې زه له کومه ځایه راغلی یم او چیري ځم؟

انسان په دې اکتفا نه ده کړې چې یوازې د ژوندانه اړتیاوې پوره کړي، بلکې تل د ژوندون څنګه والی (ماهیت) او غایه پلټې، او تر ژوندانه وروسته هم ښه حال غواړي، د انسان له دغو پوښتنو ګروېږونو څخه د ده لومړني عقلیت هسې ځوابونه ویل، چې ځیني به صادق وه، او ډېر به هم وهمي وه !

نو له دغه جهته د ده په عقایدو کې اصلاحات کېده، د پخوانو افکارو تعدیل او تهذیب کېدی، او له دغه سببه هم دین او فلسفه پیدا سوه چې د انسان خرافي او وهمي عقاید ور سم کړي.

ادب هر وخت له دین او فلسفې سره پر دې لار ملګری دئ او د انسان د ځان پېژندنې تاملونه او فکرونه ضبطوي، او د حل لار یې هم ښیي، انسان هر وخت د ژوندانه او مرګ فکر وهي، د فن او صناعت او علم په زور یې مشکلات حل کوي، او ډېر د ژوندانه موانع او سختۍ له منځه باسي، ادب هم له انسانه سره په دغه زیار کې مل دئ، او د ده د تفکير او تامل ترجماني کوي، کله یې د بري او سعادت زیری کوي، کله چې د تشاؤم او قنوط خوا ته ځي.

یو وخت د انسانانو یوه ډله د ژوندانه پر ډګر بری مومي، په ځان باور لري، د خوښۍ او هوسایۍ اسباب ټول ځانته تیاروي، دلته نو ادب د دوی دغه د بریالیتوب احساسات څرګندوي، همتونه کلکوي، او د عزیمت فتور او سستي له دوی څخه هېروي. کله چې په مایوسي او ساړه محیط کې ولوېږي، نو د تشاؤم رنګ ځنې ښکاري.

د انسانانو د مدني او مهذب مجتمع او د ژوندي ادب خواص هم دا دي چې دا لاندي شیان پکښې وي، د انسان تامل او تفکر په خپل ځان کې، په کایناتو کې د انسان مقام او منزلت د انساني قواوو ازموینښت او غایې او مقاصد یې.

د هر ملت ادب چې په دغو شیانو کې د تفکير آثار او نخښې لري هغه ادب ژوندی او ټینګ او د قیمت خاوند وي، مثلاً یونانی ادب او مدنیت او یوناني فنون ټول د انساني جمال او بطولت بیان په ښه ډول کوي، خو له بله پلوه انساني نقایص هم ښیي، انسان  په خوښي او عیش او تمتع کې ډوبوي، د حیات آلام او ویرونه هم ښکاره کوي، مګر له قیده یې د حریت ډګر ته نه راباسي ... په دې ډول یونانی ادب د انساني ژوند څرګندونه او ښکاره کول په هسې توګه کوي چې یوناني او کلاسیکي ادب ته په اوسنۍ اروپایي اصطلاح "انسانیات" وایي او سړی یې په مطالعه سره یوازې د هغې پخوانۍ دنیا په اوضاعو نه خبرېږي، بلکې د هغو خلکو د نفس په احوال هم پوهېږي.

د یوناني ادب دغه خاصیتونه او مزایا انګلیسي ادب ته هم راغلي دي او په دې ادب کې هم هغسې انساني ابحاث وینو، له یوې خوا لکه یونانی ادب انسان تجمید کوي او ښېګڼې یې ښکاره کوي له بلي خوا د یاس او تشاؤم خبري لري.

د یونان ډرامو یو موضوع تعقیب کړې وه او هغه دا وه، چې انساني آمال یې د نصیب او قسمت په توره پرېکوله، انګلیسي ادب هم دغه روح لري.

د شکسپېر د روایاتو موضوعونه کټ مټ د یوناني ډرامو په ډول دي، هملټ، ایتل، ماکیت عیناً لکه یوناني ډرامې هغسي دي. د ابطالو، مشاهیرو او پهلوانانو بیان کوي، د عقل، شجاعت او نورو فضایلو مظاهر ښکاره کوي، مګر سره د دغه هم بیا د ټولو لویانو او اتلانو مقدرات د نصیب په لاس ورکوي. نو د ده روایات او کیسې د انساني حیات مختلف پلوونه ښکاره کوي. شفقت، یاس، احتقار، اکبار، سخریه او خندا ټول پکښې وي. په نوي انګلیسي ادب کي هم په انساني نفس کي د تامل ابحاث ډېر دي، ادباء تل د نفس د مطالبو او منزلت او خطر څرګندونه کوي، مثلاً هارډي دغه بحث له تمثیلي حالته د عادي کیسي ډګر ته راوستلی او د اتلانو او ابطالو څخه یې عادي مجتمع ته هم راکش کړی دئ. ده "تس" نومې فقیره ښځه د "اوفیلیا" بډایي سره سمه کړې او اقویاء یې له بې وزلو سره په انساني آمالو کي پرتله کړي دي او دا یې ښکاره کړې ده، چي د انساني نفس میلان او آرزو په هر حال کي سره ورته ده.

د ادب بل مشهور او مهم بحث مرګ دئ، چي د انسان په ژوندانه کي ډېر اثر لري، او تل انسانان دې خوا ته ملتفت دي، لوی لوی ادباء په خپل ادب کي دې شي ته ځای ورکوي او انسان یې له پېښېدلو او راتګه خبروي، عمر خیام خپل ډېر رباعیات دې مقصد ته وقف کړي دي، شکسپېر هم تل په مرګ کي فکر وهي، ورته ګوري د خپلو روایاتو ابطال د مرګ له پلوه ډغوي، هملټ په خلوت کي د مرګ فکر وهي، ځي د خپلي میني له پاره قبر کیني، د نورو مړو کوپړۍ راکاږي چي هلته خپله مینه ښخه کړي. دی په خپلو عشقي بدلو کي تل د حزن او ویر پر وخت د مرګ یادونه کوي.

شیرلي یوه ښکلې سندره لري، چي د مرګ بیان کوي، دا سندره دوني مشهوره ده چي اکثر بیتونه یې د متل په ډول په خولو کي لوېدلي دي، او د عمر خیام له ډېرو رباعیاتو سره مطابقت هم لري.

کیټس یو خورا ښه شعر لري چي د خپل ضعف پر وخت د مرګ له بسیۍ (شبح) سره داسي مخامخ کېږي :

"هغه وخت چي ما ته بېره راولوېږي چي زه به د ډېرو عقلي میوو تر ټولو دمخه ولاړ سم ... او دغه به لکه پخې مېوې پخپلو کتابو کي ځای نه کړم ... هغه وخت چي د شپې پر مخ د ستوریو رموز وینم، او دوی د لوړي دنیا داستان راته لولي، او زه پوهېږم چي زما ژوندون هم لکه دوی تر سهاره دئ ... هغه وخت چي زه پوه سوم چي اې ښکلې بیا به تا ونه وینم، او ستا د میني سحرناك قوت به نه وي ... نو په دغو وختو کي زه د نامرادي دنیا پر غاړه درېږم او فکر کوم ... تر څو چي مینه او لوبي دواړه ورکېږي".

انګلیسي ادباء په دغه باب کي له دریابه سره عجیبي خبري لري، د "ټېنیسون" بیتونه په دې خصوص تر ټولو ښه دي، دی دریاب مفکر او غمجن ویني، له دې جهته چي یو ښه صدیق او دوست ځني تللی دئ او هلته وایي :

"اې دریابه ! ځان پر کلکو ډبرنو مات کړه ! هغه د ماهیګیر زوی چي د خپلي خور سره لوبي کوي، څنګه خوښ دئ ! اما زه ... هغه لاس چي به مي تل په لاس کي و، راڅخه ولاړ ... او هغه ږغ چي به راته ږغېدی پټه خوله سو ...".

شیلي هم زمانه له دریابه سره تشبیه کوي، او داسي خطاب ورته کوي :

"اې ناپایه دریابه ! چي څپې دې کلونه دي، او د انسان د اوښکو په ترو وتریو یې ستا مدوجزر پر انسانیت راګرزېدلی دئ ... نو ته نور څه غواړې؟ د انسان بقایا خپلو وچو او بې ګټو غاړو ته راوغورځوه !...".

په دې ډول انګلیسي ادباوو د مرګ تصویر کړی دئ او لکه د انسان په فطرت کي چي پرته ده، دوی تل د انسان په ماضي او حاضر او مستقبل کي فکرونه کوي، کله د حیات ښېګڼي او خوندونه ښیي، کله یې سرور او بدۍ بیانوي کله یې توره خوا او کله یې رڼه خوا څرګندوي.

د انسان سپین اړخ د ابطالو په شهامت او د جمال په ښکلا، او د ژوندانه په ښېګڼو ښکاره کوي، او نور اړخ یې د

شقاوت او وير او الم په مناظرو کي ښيي، نو اديب پر ژوندانه احتواء کوي او ټول د حيات ډولونه او فنون ګوري، هر پلو يې لکه چي ښايي هغسي څرګندوي.

ټنيسون په هغه قصيده کي چي د يوه خپل مړه ملګري په وير کې نظم کړه يوازي د خپل ملګري ياد او وير نه کوي، بلکي د ژوندانه مختلف نواحي ګوري، او په عامه سترګه يې ويني. شکسپېر هم د ميني او رشتيا ميني پر لار خپل ټول نفسي خفايا څرګندوي، دی يوازي انسان د نصيب او قسمت په لاس کي نه اچوي، بلکي د شهامت او بطولت پر لار يې د اميد او آرزو په رڼا کي سترګي ور خلاصوي.

د انسان تور اړخ اکثر شعراء او ادباء په زړه ژوبل کړي دي، موړه سورټ چي خپل احلام په ښه او روڼ انساني مجتمع کي تصوير کول د فرانسې لوی انقلاب هسي خواتوری کړ چي فقط د فطرت ښکلاوو ته يې مخ وګرځاوه او خپل اشعار يې د طبيعت په ستاينه ښکلي او خواږه کړل، کيټس چي د ژوندانه له ويرو او تيارو څخه په عذاب سو، هم يې دغي خوا ته مخه کړه.

د شيلي يو شعر (او زيماند ياس مصري) د انسان دغه دوه اړخه ښه تصوير کوي، د انسان بطولت او ضعف او فنا څرګندوي او وايي :

"ما يو مسافر په يوه زړه مځکه کي وليد چي ويل يې : په دښت کي دوه بوټي د ډبرو تر منځ شنه سول شاوخوا يې رېګو نيولې وه، ريښې يې ټينګي نه وې، دې بوټي د خلکو له زړو څخه غذا خوړله او د لاس و پښو څخه يې نار جوړ سوی و، او دا کلمات پر ښکاره کېدل : "لوړ او زيمانديس ملك الموت" اې جبارانو زما حال وګورئ ! هيڅ شی نه دئ راپاته، شاوخوا ته ښېله وچي صحرا او بټ ښېديا او وچو رېګو بل شی نسته".

په دې ډول شيلي د هغه پاچا عظمت، او د مرګ سطوت او د فنا بطش او سختي په ښه ډول په فني قلم تصوير کوي.

عربي ادب هم د انسان نشئت او احوال او د ورتګ ځای ته ډېر ملتفت دئ هر څوني چي ثقافت او حضارت د دوی ډېر سوی دئ هغوني يې دغي خوا ته ډېره توجه کړې ده.

په جاهلي ادب کي فقط لږ لږ اشعار داسي موندل کېږي چي شاعر د انسان ضعف او د ژوندانه لنډوالی بيانوي، په دغه عصر کي شاعر تل د ځان او خپلي قبيلې مجد او لوړتيا وايي، مګر هر څوني چي علم او پوهنه ډېرېږي، عربي شاعر د انسان فناء او ضعف ته ډېر ملتفت کېږي. د اخطل او شماخ او جميل په اشعارو کي دغه شی دوني نه ليدل کېږي لکه د بشار او ابو نواس او ابو تمام په شعر کي چي سته. په دريم او څلورم هجري قرن کي دا تفکير د علم او فلسفې د پخېدلو سره ډېر پوخ سو او د عربي لويو شاعرانو په افکارو ګډ سو. مثلاً ابن الرومي، متنبي، شريف، معري ټوله دغه انساني فلسفه پخپل شعر کي لري، ابن الرومي ژوندون له طبيعي ښکلا څخه يوه ننداره بولي او اغتنام يې هم لازم ګڼي، معري ژوندون شقاوت او متصل شر بولي، متنبي خلك ټول د قتل وړ بولي او وايي :

و من عـرف الايام مـعرفتي بها<br>و بالناس روی رمحه غير راحم

دغسي عربي شاعران تل د انسان په ژوندانه کي غور کوي او هر څوك يې د خپل تشخيص سره ستايي، دوی ويني چي انسان څنګه ضعيف او څنګه هم لوړ دئ؟ د ژوندانه دواړه اړخونه يې په غور ګوري، متنبي پخپل شعر کي د اسلامي امپراتورئ شاوخوا ويني، ګوري چي تر اسلام دمخه شرقي خوا يعني ايران څه طمطراق درلود او اوس څنګه دئ، نو وايي:

این الاکاســره الجــبابره الاولی
کنز والکنوز فما یقین و لا یقوا؟
بیا غربي امپراتورۍ مصر ته ګوري، او داسي یې یادوي :
این الذي ا لـهرمان من بنیانه؟
ما قومه؟ ما یومه؟ ماالمصرع
یعني کسراګان او هغه ددوی خزانې څه سوې؟ هغه څوك چي د مصر اهرامونه یې بنا کړي وه څه سوه؟ قوم یې څه سو؟ ورځ یې څه سوه؟

***

انګلیسي او عربي ادب چي انسان ته کم نظر لري په لنډ ډول مو لوړ ولوست، د پښتنو ادب هم طبعاً د انسان په ماهیت کي ږغیږي، شعراء او ادباء د دغه تفکیر په دریاب کي غوټه کیږي.

هغه ادب چي د بساطت او بداوت په غیږ کي تربیه سوی دئ، طبعاً دغسي فلسفي او علمي کتني نه لري، مګر کم ادب چي موږ یې کتابي ادب بولو، په دغو افکارو ډك دئ.

پښتو ادب شدیداً د مشرق د تصوف تر اثر لاندي دئ دا ښکاره ده چي تصوف تر هر څه ډېر په انساني نړۍ کي تدقیق کوي، فلسفه چي د انسان او انسانتوب له پاره کم معاییر لري هغه ټول په تصوف کي خوندي سوي دي، او د فلسفې د نیوفلاطونیزم مسالك کټ مټ په تصوف کي سته.

له هغه وخته چي پښتو ادب نشوونما کړېده، پر مشرق او د پښتونخوا په شاوخوا کي د تصوف افکار عام وه، اېران او هند د دغو افکارو مهم مراکز دي. علاوه پر دغه د یونان د فلسفې د نوي فلاطونیت اساسونه چي د عربو په فلسفه کي ټینګ سوي وه دا ټول په شرقي دنیا کي له مصره تر چینه د عربي ژبي په وسیله خپاره سول او د پښتو پر ګاونډي ادب یعني د اېران او هند پر ادب یې ښکاره اغېزه وکړه نو ځکه د تصوف مبادي او اصول په ادب کي کټ مټ د پاړسو په دود داخل سوه.

د پښتو د ادب نظر انسان ته، کټ مټ هغه د تصوف او نیوفلاطونیزم نظر دئ، چي انسان د لوی خالق او صانع د قدرت مظهر، او د ده د جمال یوه ننداره ګڼي، او ټولي ښېګڼي یې د قدرت له سرچینې اقتباس بولي، خوشحال خان د انسان دغه ظاهري بدن چي د ده په ادبي او ښکلي تعبیر، "د اومو خاورو کندو" دئ د قدرت له ښکلا او زېبایۍ څه نماینده بولي، او هسي وایي :

د اومــو خــاورو کــندو دئ
تا زېبا کـــــړ په څـو رنګـــه
عجب زړه دي پکښې کېښ
تا دانا کـــړ په څــــو رنګـــه
د ثنا ژبه دي ورکـــــــــړه !
تا ګــویا کـــړ په څـــو رنګـه

مــــعرفت دي پکښې کيــښ
تا آشـــنا کـــړ په څـــو رنګـــه

دا نظر په ټولو ادباوو او شاعرانو کي عام دئ او زما په عقيده دغه راز افکار له خورا پخوانئ زمانې څخه په پښتو کي وه، ځکه چي د نوو محققينو د پلټني له رويه عين د ويدا کتاب هم د تفکير هسي رنګ لري او د "وحدت الوجود" فکر له هغه وخته په آريايي اقوامو کي و.

علامه ابو ريحان البيروني په کتاب ا لهند کي له هندي آريايي کتابو څخه مفصلاً دغه عقايد بيانوي، پخپله اپنشده چي د ويدا په شروحو کي يو کتاب دئ، دغه آريايي فکر ښه توضيح کوي.

ريګويدا هم انسان ته په لوړ او کښته اصل قايل دئ، ملکي او علوي اخلاق او ښه اوصاف يې له (ديوس پتا) يعني آسمانه څخه ګڼي او "پرتهوي ماتا" يعني مځکه يې مور بولي. دغه دوې خواوي يعني لوړ او کښته تل د انساني فطرت، خميره بولي او له دغه جهته نو د انسان عظمت او لوړتيا او بيا دده کښته توب هم سنجوي.

دغه فکر چي له پخوا زمانې څخه په پښتنو کي موجود و اسلامي تصوف ښه پسي ټينګ او ښکاره کړ، چي پخپله د انسان وجود د خالق د قدرت يو جامع مظهر دئ، خوشحال خان وايي :

د دې خپل وجود په باغ کي
په هر شان نندارہ ګوره
چي هر ګل و ته نظر کړې
د باغوان ننداره ګوره

بل ځای د انسان لويتوب هسي څرګندوي :

جهانونه څه لږ نه دي
ته يې نه وينې نادانه !
ګوره څو دي هسي زمکي؟
ګوره څو هسي اسمانه؟
واړه ځای دي ستا په زړه کي
اې تر عرش لويه انسانه !
آئينه د زړه صيقل کړه
چي يې ووينې اې جانه !
که دي دا ننداره وشي
جدا نه يې له سبحانه !

په دې ډول پښتو ادب انسان يو لوړ مخلوق او د خالق د قدرت ښکلی مظهر ګڼي، مګر د دغه مخلوق د ضعف او عجز خوا هم روښانه کوي، متنبي عربي شاعر د دغه مقصد له پاره تر خپل محيط او عصر دمخه تی، د کسری او د اهرام د بنا کوونکي ياد يې د عبرت په ډول کاوه، مګر خوشحال خان د خپل عصر په مناظرو کي هسي د عبرت ننداره راښيي :

اورنګـــــزېب چي آرايش د تخت و تاج کا

تخت و تاج به يې مرګی تاخت و تاراج کا
په جـــهان کې به يې پاتو ښـــه بد نوم شي
ده زده، چـــاري د کـــسی که د حـــجا کا

رحمان بابا د انسان ژوند د مځکي او اسمان د ژرندي تر پلو لاندي څنګه تصوير کوي :

هـــــسي تېز درومي دوران
ګــويا برق دئ درخـــشان
د آسيا په څېر ګردش کا
په زمـين باندي آســـمان
کـــکرئ دي د ســــــړيو
چي ووړېږي تر دا مـــيان

وګورئ ! انګليسي شاعر د زمانې بېوفايي او د انسان د فنا مدهش منظر د درياب په څپو کي ښکاره کاوه، د پښتانه شاعر دغه تصوير، چي د انسانانو ککرئ د آسمان او مځکي د پلو تر منځ اوړه کيږي هم ډېر عبرتناک دئ !

په ملي شعر او لنډيو او بدلو او نارو کي هم د انسان د مختلفو اوضاعو او احوالو بيان راځي، مګر دا تصاوير ډېر ساده او سپېڅلي او بديع دي، ځکه ما دمخه ويلي دي چي داسي افکار د فلسفې او علمي رڼا سره ډېرېږي او دا پوښتني د يوه لوستونکي په دماغ کي تر نالوستونکي ډېر ځای مومي.

د پښتنو شفاهي ادب يعني لنډئ، نارې، بدلي اکثري د ميني له دنيا سره اړه لري او په دې نړئ کي يو عاشق او مين د انساني نفس اکثر احوال او واردات ښوولای سي، مثلاً د انسان ضعف او نامرادي په دې الفاظو تصوير کوي :

خوله مي خندا ته نه جوړېږي
بېلتون ځاپېړي پر سپين مخ راکړي دينه

د دنيا فنا او تېرېده هسي ښيي :

په دنيا مه نازېږئ خلکو !
د شاه جهان پاچا څه پاته شوه ملکونه

د مرګ مدهش مناظر څنګه تصويل کوي :

قبر سوری شو، خښتي ماتي
جانان شو خاوري د بيابان بادونې وړينه
قبر سوری که حال مي ګوره
پر خمارو سترګو مي پرېواته ګرزونه

کابل مجله، ۱۳۲۳ ش کال، ۸ ګڼه، ۱–۵ مخونه.